مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۹/۱۶

# افغانستان او معاصر مدني اصلاحات

ښايي زموږ په ټولنه کې به يوشمېرځوانان داسي ګڼي، چي په افغانستان کې د موډېرنو قوانينو جوړول، معارف، بشري حقونه، ولسواکي، نوي ټولنيز خدمات او د معاصر ژوند نور ارزښتونه په وروستيو کلونو کې له لويديزې نړۍ څخه راغلي او ګواکي پردي به وي. ښايي دا ناسمپوهاوی له دي څخه راپيدا شوی وي، چي د افغانستان په معاصر تاريخ کې پرلپسي کړکېچونو او جګړو دغه تاريخي لړۍ څو څو ځله شلولي او د افغانستان مختګ يې ځنډنی کړی دی. ريښتيا خبره دا ده، چي افغانستان له نړۍ سره هممهال او ګام پرګام د عصري مدني اصلاحاتو هڅه راپيل کړې ده. دغه تاريخي لړۍ نه يوازې پخوانی ده، چي په ځينو برخو کې يې لا د افغاني کېدو هڅه هم شوي ده. مانا د دودپالني و موډېرنيتي ترمنځ په مخامختيا کې د ملي او فرهنګي ارزښتونو د ساتنې پرهڅو هم فکر و عمل شوی دی.

په ځرګنده توګه د اميرشېرعلي خان د واکمنی پرمهال د معاصرو مدني اصلاحاتو اړتيا پر سياسي درېځونو تر بحث لاندې راغله.

يو شمېر مورخان د معاصرو اصلاحي پروګرامونو پيل د نولسمي پېړۍ په دويمي نيمايي کې د نوموتي ريفورميست سيدجمال الدين افغان له هغو وړانديزونو څخه بولي، چي اميرشېرعلي خان ته يې د خدای پامانی په ورځ په ليکلي بڼه وسپارل.

افغان سيد ته امير په خوښی د اصلاحاتو د عملي کولو ژمنه وکړه، او په لسو کلونو کې يې د خپلې ژمني د پوره کولو څه هڅي وهمکړې. چي په اقتصادي، فرهنګي اوصنعتي برخه کې يې د نويو بنسټونو رامنځته کول او په کور دننه د وسلو جوړول يوه برخه وه. کورني امنيت ته پام، د لويو لارو جوړول، بهرنی سوداګري، مالياتي نظم، د عصري پوځ جوړول، د اجرائيه څواک نوي کول او په اجرائيه ځواک کې د يوه واکمن لومړي وزير ترڅنګ د وزارتونه جوړول او سکتوري ويش، د پېښور په ګډون د هېواد په لويو ښارونو کې د پُستي خدماتو لپاره د بنسټونو جوړول او په مهمو ملي مسايلو کې د مشورتي لويو جرګو جوړول يې بېلګې دي. هغه د مرکزي حکومت د ټينګښت او له ملوکالطوايفي خپلسريو څخه د خلاصون لپاره په ۱۸۶۵ کې د ټول هېواد د ولسي استازيو يوه دوه زره کسيزه جرګه راوغوښته، چي د خپلسريو سردارانو په وړاندې د مرکزي واکمنی مشروعيت تثبيت کړي.

په فرهنګي برخه کې مهم اصلاحات؛ د ليتوګرافي مطبعي راوړل او د شمس‌النهار جريدې خپرول و. په رسمي بڼه يو پوځي او يو ملکي ښوونځي جوړ شول او د کتابونو خپراوي د پيل ترڅنګ د پُستي ټکټونو چاپول هم پيل شول. افغان سيدجمال الدين تر دې وړاندې چي په دربار کې د خپلو اصلاحي پروګرامونو طرحه وړانديز کړي، په دريکلني سفر کې يې هيند، عراق، شام او حجاز ليدلي وو او د نړۍ له پرمختيايي هڅو خبر و. تردې مهاله د عثماني ابمپراتورۍ مختګونه او په هيند کې د عصري ژوندانه نښې نښاني افغانستان ته رارسېدلي وې.

د دغې دورې يادو پيليزو هڅو د راروسته لسيزو په ترڅ کې د معاصرو مدني اصلاحاتو په برخه کې د بنسټونو ارزښت وموند او د لومړي او دويم مشروطيت او بيا روسته د اماني دورې اصلاحات يې شوني کړل. په ولس کې د افغانستان د بشپړې خپلواکی د ترلاسه کولو او نورو مختګونو هڅه د سيمې له ځيني هېوادونو څخه مشره ده.

د انساني ژوند د شرايطو د ښه والي هڅه د بشريت ګډه غوښتنه او هيله ده، په همدې پار د نړۍ د فرهنګي او جغرافيايي حوزو ترمنځ تجربې ځي او راځي. د ټولنيزنظم لپاره د قوانينو رامنځته کول يوه لرغوني انساني هڅه ده. د حقونو او مسئوليتونو پېژندل داسي يو ټولنيز قرارداد دی، چي لکه د پوهي او معرفت هره ځانګه ټولو فرهنګي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

حوزو یوڅه وربښلي دي. افغانستان د معاصرې نړۍ د مختګونو یو فعال غړی و، په سیمه کې مخکښ هېواد و، چې له انګریزي ښکېلاک څخه یې بشپړه خپلواکي ترلاسه کړه او د نورو هېوادونو لپاره د دې لارې په یوه لارښود بدل شو، مشروطه نهضت یې هم تر ډېرو پخوانی دی. د معارف نهضت، قانون جوړونه، د ښځو د حقونو نهضت رسنۍ او خپرونې او نورو معاصرو مدني اصلاحاتو یې د نومهالي تاریخ په طبیعي بستر کې وده وتکامل موندلی.
ځوان نسل باید په دې وپوهېږي، چې افغانستان ته د مدني اصلاحاتو بهیر له بهر څخه نهدی راوارد شوی، په بله ژبه دغه مهم تکاملي پروسه پردۍ نهده، بلکې په خوار طبیعي توګه د نړۍ له پرمختګ او شعوري ودې سره ګام پرګام د ویښو، روښانو او بدلون‌غوښتونکیو افغان شخصیتونو په همت او قربانیو تر دې ځایه رارسېدلې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ